# إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ الْخَفِيَّ». "الله جل جلاله؛ پرهيزګاره، له نورو مستغني او پټ بنده خوښوي

له سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نه روايت دی چې وايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي چې فرماييل يې: «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ الْخَفِيَّ». "الله جل جلاله؛ پرهيزګاره، له نورو مستغني او پټ بنده خوښوي".
[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم څرګنده کړه چې الله تعالی له خپلو ځينو بندګانو سره مينه لري. چې د هغوی له جملې څخه يو پرهيزګار دی: هغه چې د الله جل جلاله حکمونه مني او د هغه له منهياتو ډډه کوي. او غني (له نورو مستغني انسان) خوښوي: هغه چې له خلکو څخه يې ځان په الله جل جلاله مستغني کړی وي، له هغه پرته بل چاته توجه نه اړوي. او پټ بنده خوښوي يعنې: عاجز، د خپل رب عبادت کوونکی، هغه څوک چې په هغه څه بوخت وي چې ګټه ورته لري، دا ورته مهمه نه وي چې څوک يې وپيژني او يا يې په خبرو سره وستايي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5545